# د افغانستان ښځو خبري آژانس

## عدالت ته ښځو دلاسرسي وضعیت په اړه څېړنیز راپور

## مارچ 2024

*لیکوال: پروین تورپیکی مستعار نوم

# لړلیک

سرېزه ........ 2
ښځې له کومه ځایه ترکوم ځای پورې؟ ........ 3
د طالبانو د قضایي سیستم جوړښت: ........ 4
د طالبانو په توقیف ځایونو کې د ښځینه پولیسو نشتون یا کموالی: ........ 5
-طالبانو استخباراتو ریاست لخوا د ښځو لاسرسی عدالت ته کم کړی: ........ 5
د طالبانو په زندانونو کې د ښځینه بندیانو شمېر: ........ 6
په زندانونو کې ښځینه و سره چلند او عادلانه محاکمو ته ددوی نه لاسرسی: ........ 6
بندیان د حقوقي او اجرائیوي تضمینونو بې برخې کول: ........ 7
د ښځینه مدافع وکیلانو او څارنوالانو ګوښه کول: ........ 7
ښځینه څارنوالانو ګوښه کېدل: ........ 9
د ښځینه قاضیانوګوښه کول: ........ 9
په موسساتو اونورو ادارو کې حقوقي مشاورینودندې ځندول: ........ 10
نرواکي اود ښځو سره تبعیض عدالت ته د ښځو په لاسرسي کې خنډ رامنځته کړی: ........ 10
د تېر حکومت د ښځوملاتړ اړوند قوانینو لغوه کول: ........ 10
د افغانستان اساسي قانون ........ 10
مدني قاونون ........ 11
د پولیسو لخوا عاجلانه محاکمه ........ 11
غیر رسمي عدالت او د قومي مشرانو لخوا د قضیـو غیر عادلانه حل: ........ 12
د طالبانو صحرایي محاکمې: ........ 12
د جرمونو لپاره مشخص تعریف نشتون ........ 12
د حدود او قصاص جزاګانې: ........ 13
پایله ........ 13
وړاندېزونه: ........ 14
ماخذونه ........ 16

## سریزه:

په افغانستان کې عدالت ته د ښځو لاسرسی د مختلفو فکتورنو له مخې اغېزمن شوی چې دکلتوري،سیاسي،تاریخي او کله کله د اقتصادي لاملونو تر اغېزې لاندې ښځې عدالت ته له لاسرسي محرومېږي.

خو اوس وخت کې تر هر څه زیات د طالبانو سیاست چې د ښځو په وړاندې یې کاروي عدالت ته ددوی لاسرسي په برخه کې لوی خنډ دی.طالبان هڅه کوي دې بې عدالتۍ ته دیني رنګ ورکړي او ځیني وخت بیا دا بې عدالتي په افغاني کلتور تپي چې هڅه کوي په دې توګه د ښځو په وړاندې ځپونکي پالیسۍ په کلتوري توګه توجیه کړي.

د ښځو په وړاندې د طالبانو ځپونکي پالیسي تقریباً له ښځو ټول حقونه اخیستي او پرته د صحي سکتور اوپه (ډېره کم کچه )د ښوونې او روزنې برخې پرته د کور او ګور اصطلاحاتو ته یې عملي جامه وراغوستې ده.

د نورو برخو سربېره طالبانو د بیا ځلي واکمنۍ راهیسې عدالت ته د ښځو لاسرسی په بشپړ ډول له منځه وړی دی،چې آن په عادي لاریونونو هم تر زندانه رسېږي او شکنجه کېږي .د افغان ښځو خبري آژانس دا څېړنیز راپور چې د طالبانو ترحاکمیت لاندې عدالت ته د ښځو لاسرسي تر عنوان لاندې د رسنیز کارکونکو لخوا لیکل شوی د طالبانو حکومت کې د افغان ښځو عدالت او قضایي سیستم ته لاسرسی تر مطالعې لاندې نیسي چې په مختلفو اړخونه لکه د طالبانو قضایي سیستم او محاکمو اصول، ښځینه پولیسو،ښځینه څارنوالانې،ښځینه مدافع وکیلانو،د افغانستان په زندانونو کې د ښځینه بندیانو شمېراو هغوی سره د طالبانو چلند او ددوی قضایی سیستم جوړښت او سرچینې او هغه عوامل چې عدالت ته یې د افغان ښځولاسرسی محدود او له منځه وړی له ۲۰۲۱اګسټ څخه تر ۲۰۲۳کال ډسمبر میاشتې تر ۲۰نېټې پورې ترڅېړنې لاندې نیسي.

که حه هم د طالبانوپه حکومت کې عدالت ته د لاسرسي په اړه رواداري په نوم یو بنسټ یو څېړنیز راپور خپور کړی خو هغه یوکلي راپور دی چې د طالبانو عدالتي سیستم د نارینه او ښځینه دواړو په وړاندې ددوی چلند تشریح کوي خو دا راپور چې د افغان ښځو خبري آژانس لیکلی او په اړه یې څېړنه کړې یوازې عدالت ته د ښځو لاسرسي وضعیت تر څېړنې لاندې نیسي.

په دې څېړنې کې به لاندې پوښتنې ځواب شي:

۱-په جمهوري دورې کې عدالت ته د ښځو لاسرسي وضعیت څنګه و اواوس د طالبانو ترحاکمیت لاندې څنګه دی؟

۲-کوم فکتورنه عدالت ته دښځو لاسرسی اغېزمنوي؟

۳-طالبانو څنګخ او د کومو کارونوپه وسیله عدالت ته د ښځو لاسرسی محدود کړی؟

## ښځې له کومه ځایه ترکوم ځای پورې؟

افغان ښځو وروسته له اوږد قید و بند چې د طالبانو په لومړۍ پله واکمنۍ کې يې د ښځمنتوب له امله پرې محکومې شوې وې په ۲۰۰۱کال د طالبانو د رژیم په نسکورېدو ترې آزادې شوې.

دوی د نورو برخو ترڅنګ قضایي سیستم ته هم د افغانستان د نوي اساسي قانون له مخې چې تازه په ۱۳۸۲هـ ش کال د حامد کرزي په لنډمهاله دوره کې په لویه جرګه کې جوړ شو لار وموندو او یو ځل بیا له اوږدې مودې يې فرصت ترلاسه کړ چې د نورو اسلامي هیوادونو په څېر د اسلامي اصولو په چوکاټ کې د خپلو همجنسو(ښځو)حقونواو هغوی ته د عدالت لپاره ورروزل شوې اوپه محاکمو،محابسونو،حوزو،توقیف ځایونو او زندانونو کې خپلې دندې پیل کړي.

یوشمېر ښځو د نارینه و سر یوځای فرصت ترلاسه کړ چې د قانون د حاکمیت لپاره د وکیلانو،څارنوالانو،قاضیانو،څېړونکو او حقوقي مشاورینو په پوستونو کې کار وکړي.

په ۲۰۰۳کال د ښځینه قاضیانو لومړنۍ ټولنه جوړه شوه او وروسته له دې د افغانستان اسلامي جمهوري رژیم د نوي حکومت په توګه

په ۲۰۰۷کال د مدافع وکیلانو نوی قانون د پنځو څپرکو او ٤٤ مادو په درلودولو سره جوړ کړ،چې له مخې يې افغان مدافع وکیلانو چې شمېر يې شااوخوا ۵۰۰تنو ته رسېده په ۲۰۰۸کال د مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه جوړه کړه څو تورنو کسانو ته اسانتیاوې برابرې کړي.

افغان ښځو چې دقضایي او محاکماتي سیستم کې يې کار کاوه تر ډېره عدالت ته د ښځود لاسرسي په برخه کې د ننګونو اړ سترو خنډونو سربېره بریالۍ وې خو دې حالت لا د پرمختګ تازه مزل پیل کړی و چې ناڅاپه د جمهوري حکومت ړنګېدلو سره سم دا سیستم هم چې د شل کلنو هڅو او مبازو په پایله کې رامنځته شوی و ګډوډ او بیخي له منځه لاړ.

ښځینه قضایانو،څارنوالانو،مدافع وکیلانو اوپولیسو ژوند له ګواښونو سره مخ شو چې ډېرو يې وطن پرېښود او کوم کسان چې پاتې شول ځانونه يې پټ وساتل څو ځان وژغوري.

طالبانو د راتګ سره سم د پخواني حکومت د قضایي او عدلي اورګانونوکارکوونکو په ګډون ټول کارکونکي په کور کېنول.

په دې کارکوونکو کې ښځینه کارکوونکې هم وې چې طالبانو د حجاب نه مراعتولو په پلمه په کور کېنولې.

د طالبانود سترې محکمې اداري مرستیال په یوې خبري غونډه کې خبریالانو ته وویل چې دوی ښځینه قاضیانې د حجاب نه مراعتولو او د پوهې کموالي له امله په کور کینولي دي.

طالبانو خپل نوی حکومت د ملایانو څخه تشکیل کړی دی چې قضایي جوړښت يې په شکلي ډول په لاندې ډول دی.

## د طالبانو د قضایي سیستم جوړښت:

د طالبانو قضایي سیستم د څلورو محکمو او ۱۱ریاستونو څخه تشکیل شوی چې په لاندې ډول دی:

۱-ستره محکمه او دیوانونه یې
۲-استناف محکمې
۳-ابتدائیه محکمې
٤-ځانګړې محکمې

د قضایي سیستم ریاستونه:

۱-د عالي شورا او دارالنشاء ریاست
۲-د څېړني او مطالعاتو عمومي ریاست
۳-د قضایي پلټنې ریاست
٤-د قضایي تعلیماتو ریاست
٥-د تحریراتو ریاست
٦-د بشري منافعو ریاست
۷-د خپرونو ریاست
۸-مالي او اداري عمومي ریاست
۹-د پلان او پالیسی ریاست
۱۰-د ورتیاو د لوړولو او د ارجراآت ارزوني ریاست
۱۱-د افتاء او احتساب عمومي ریاست

طالبانو د سترې محکمې په ویبپاڼه لیکلي چې ددوی د قضایي فعالیتونو اساس او سرچینې اساسي قانون،د قضائیه قوې واک او تشکیل قانون،د جزایي اجراتو قانون،مدني محاکمو د اصولو قانون،د سوداګرېزو محاکمو د اصول قانون،لوایح،مقررات او کړنلارې دي.

دوی پخپله ستر محکمه کې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي د جرایمو او د ماشومانو د تخلفاتو ته درسیدګۍ دیوان ته هم ځای ورکړی.

ددوی په دې قضایي سیستم په تشکیل کې هیڅ ښځینه کار نکوي او نه ورته کوم پوست ځانګړی شوی چې د خپلو همجنسو حقونو څخه دفاع وکړي او عدالت پلې شي.

طالبانو پر افغانستان د دوهم ځل حاکمیت څخه مخکې ددوی لپاره د سترې محکمې مشر عبدالحکیم حقاني په ۲۰۱۸کال د"محکمې دعملیاتو او اجراتو"په اړه لاربنود چمتو کړی و چې دوه برخې یې لرلې چې یوه برخه یې د محاکمو سازماني جوړښت او بله برخه یې د عملیاتو او قضایي ګمارنو په اړه وه.

که څه هم ددوی د محکمو تشکیل او جوړښت په شکلي لحاظ د تېر حکومت د محاکمو په شان دی خو کړنې یې یې غیر قانوني دي او زیات وخت هره سیمه کې په تورنو کسانو ددوی د چارواکو په خوښه سزاوې پلی کیږي .

ددوی په حکومت کې هیڅ جنایي عدالت نه پلی کېږي،په ځانګړې توګه د ښځو په حق کې هیڅ جنایي عدالت نه پلی کېږي او ښځې عدالت ته له لاسرسي څخه محرومه شوې او یا یې لاسرسی محدود شوی دی.

## د طالبانو په توقیف ځایونو کې د ښځینه پولیسو نشتون یا کموالی:

د هغو مرکو پربنسټ چې معترضو میرمنو رسنیو سره کړې دي طالبان د ښځو نیولو پرمهال هیڅ ښځینه پولیسه له ځان سره نه لري څو د اسلامي او افغاني اصولو پر اساس یې دستګیرې کړي.
که څه هم د طالبانوکورنیو چارو وزارت ویاند عبدالمتین قانع ۱۷ د نومبر ۲۰۲۳م کال د طلوع نیوز سره په مرکه کې ویلي و چې دوی په وزارت کې نږدې دوه زره (۲،۰۰۰)ښځینه کارکونکې ددوی په وزارت کې په کار بوختې دي ،چې عامه خدمتونو،پاسپورټ ریاست،د پلټنې یم ځایونواو نورو ادارو کې په کار بوختې دي او همدارن؛ه دوی په کشفي،جنایي او شپنیو عملیاتو په برخه کې کار کوي.
تمنا زریاب پریاني د افغانستان انټرنېشنل سره او پروانه ابراهیم خیل د دویچه ویله دري (DW)سره په ځانګړې مرکو کې ویلي چې ددوی د نیولو پرمهال طالبانو هیڅ ښځینه پولیسه له ځان سره نه درلوده او د نیولو پرمهال یې دوی سره ډېر بد چلند کړی دی.
د هغوی په وینا چې د ځورونکو،توهین امیزه الفاظو سربېره یې په فزیکي ډول هم شکنجه کړي دي.

## -طالبانو استخباراتو ریاست لخوا د ښځو لاسرسی عدالت ته کم کړی:

د یوناما او په بشري حقونو د څار سازمان دراپورونو پر اساس طالبانو استخباراتو لوی ریاست پخپل سر ګڼ شمېر ښځې له دې امله زنداني کړي چې د خپلو حقونو لپاره یې لاریونونه او فعالیتونه کول.
بشري حقونو د څار سازمان په یو راپور کې ویلي چې د څلور میرمنو(ژولیافارسي،نداپرواني،منزه صدیقي او پریسا ازاده)میرمنو په ګډون ګڼې ښځینه فعالانې د طالبانو په زندانونو کې دي چې نومونه یې نه دي یاد شوي.
د تمنا زریاب پریاني او خویندې،پروانه ابراهیم خیل،الهه درلاورزی،ژولیا پارسي،نداء پرواني،پرېسا ازاده،منزه صدیقي،نبیلارحیمي،ظریفه یعقوبي،فرحت پوپلزی، زینب رحیمی و حمیرا یوسف،مدینه دروازي،نایره کوهستاني او ٤٠تنه نورې ښځې چې د امن خونې څخه نېول شوې وې چې ۲۹تنه پکې معترضو میرمنو ګډون اونورې هغه ښځینه فعالانې دي چې د طالبانو په دوه کلنه واکمنۍ کې د ښځو حقونو غوښتنې او ددوی ټولنیزو فعالیتونو له امله زنداني شوي دي.خو ددوی سربېره نورې ښځې هم د طالبانو په بند کې وې او شته دي.

## د طالبانو په زندانونو کې د ښځینه بندیانو شمېر:

که څه هم د طالبانو راتګ سره سم د افغانستان ټول زندانونه مات شول اوټول بندیان له بند آزاد شول خو طالبانو یو ځل بیا د دوو کالو په جریان کې زرګونه کسان د زندانونو تر پنجرو ورسول.
په دې زندانونو کې نه تنها نارینه بلکه ښځینه هم بندیانې دي.
طالبانو دمختلفو رسنیو سره په مرکو کې ویلي چې د روان ۲۰۲۳کال د اګست تر میاشتې د طالبانو په زندانونو کې ۱٦زره تنه چې له جملې یې زر(۱،۰۰۰)تنه ښځینه دي په بند کې شپې او ورځې تېروي.
له بله پلوه د طالبانو د زندانونو چارو مسؤل حبیب الله بدر د روان کال(۱۴۰۲هـ ش)د جدي په ۱۹مه نېټه د افغانستان ملي راډیو تلویزیون سره په یوې مرکه کې وویل چې ددوی په بند کې تر یادې نېټې پورې ۸۰۰میرمنې بندیانې دي.
که څه هم بدررسنیو ته ویلي چې د دوی په بند کې سیاسي بندیان نشته خو د لاریونو کونکو میرمنو نیول،او یوشمېر پخوانیو ښځینه څارنوالانو،ښځینه مدافع وکیلانو رسنیو سره په مرکو کې ویلی ،چې دوی ښځینه سیاسي بندیانې په زندان کې بندي کړي دي .

## په زندانونو کې ښځینه و سره چلند او عادلانه محاکمو ته ددوی نه لاسرسی:

په زندانونو کې د ښځو سره د طالبانو لخوا ډېر بد چلند کېږي او دوی هلته وهل، ټکول او شکنجه کېږي.
هغه میرمنې چې د طالبانو له بنده ازادې شوې مختلفو رسنیو سره په مرکو کې یې ویلي چې په زندان کې له دوی سره بد چلند کړی او دوی یې شکنجه کړي.
ژولیا فارسي چې په ۲۰۳۲کال د سیپټیمبر په ۲۷مه نېټه دطالبانو لخوا د ددوی پرضد لاریونونو له امله زندانۍ کړې وه د روان کال د ډسمبر په ٤ تاریخ د بد روغتیايي وضعیت له امله روغتون ته انتقال شوې وه،همدا راز د افغان ښځو خبري آژانس سره سرچینې د هویت نه افشاء په شرط ویلي و چې منیژه صدیقي هم د بد روغتیايي حالت له امله چې په زندان کې د شکنجې په پایله ورسره مخ شوې روغتون ته انتقال شوې ده. په داسې حال کې چې زندانونه عادي درملنې اسانتیاوې موجودې دي د سرچینود معلوماتو له مخې خو نوموړې د شدید روغتیايي وضعیت له امله روغتون ته انتقال شوې وه.دا ثابتوي چې ښځې په بندخونو کې سختې او شدېدې شکنجه کېږي.
بلخوا یوناما په یوبل راپور کې چې په ۲۰۳۲کال په سیپټیمبر میاشت کې یې خپور کړی ویلي چې د طالبانو استخباراتو لوی ریاست په بند کې بندیانو سره د تحقیق پرمهال ناوړه چلند کوي او شکنجه کوي یې.
دوی ویلي و چې طالبان په زندانونو کې او د تحقیق پرمهال د برقي شوک،د ساه بندولو یا زندۍ کولو،په جبر سره د اوبو په څښلواو نورو بدني سزاګانو څخه کار اخلي.

بنديان د حقوقي او اجرائيوي تضمينونو بې برخې کول:

طالبانو هغه کسان چې ددوی لخوا په توقيف خونو کې او زندانونوکې ساتل کېږي د حقوقي او اجراييوي او تضمينونو بې برخې کړي دي چې دا خپله د ښځو لاسرسی عدالت ته محدودوي.
يوناما په يو راپور کې ويلي چې طالبانوزندانيان د توقيف پرمهال ددوی کورنۍ غړوله خبروني،د هغوی سره له ليدني،مدافع وکيلانو ته له لاسرسی،او ډاکتر ته له لاسرسي بې برخې کړي دي.او ټول هغه پاليسی،فرمانونه او طرزالعملونه يې نقض کړي چې د بنديانو سره ناوړه چلند منع کوي او د عادلانه پروسې حقونه حمايه کوي.

د ښځينه مدافع وکيلانو او څارنوالانو ګوښه کول:

طالبانو د مدافع وکيلانو خپلواکه ټولنه لغوه روح الله قاری زاده په مشرۍ په رسمي ډول په ۲۰۰۷ کال کې د مدافع وکيلانو د قانون له مخې چې د نومبر په مياشت کې د افغانستان د پارلمان له خوا تصويب شوی و په کابل ولايت کې د جولای مياشتی ۲۰۰۸ کال کی تاسيس شوه ،چې تر ۲۰۲۱ کال پورې يې د غړو تعداد شپږزره(۶،۰۰۰) تنو ته رسېده چې له جملې يې ۲۵ سلنه ښځينه مدافع وکيلانې وې.
او فعاليتونه يې د عدليې وزارت ته انتقال کړل، چې په دې کار يې ګڼې ښځې عدالت ته له لاسرسي بې برخې کړې.
د مدافع وکيلانو د قانون، په ځانګړې توګه د «۲» فقرې او «۴» مادې له مخې، د مدافع وکيلانو ټولنه د سازمان له نظره، عمومي مجمع، د اجرائيوي کمېټې رئيس او غړي درلودل.
د سازمان له نظره، پورتنۍ ماده د مدافع وکيلانو په قانون کې ښه تشريح شوې ده، د مدافع وکيلانو د قانون شپږمه ماده دا ډول دی :
(( انجمن يوه عمومي مجمع، يوه رهبري شورا، يو اجرايوي بورډ، يو څارونکی بورډ او کميټې لري))
د مدافع وکيلانو د خپلواکې ټولنې پخواني مشر روح الله قاريزاده د افغان ښځو خبري آژانس سره په مرکه کې د يادې ټولنې د موخې په اړه وويل« دا ټولنه د قانون حاکميت، ټولنيز عدالت او د شرعي ارزښتونو د پلي کولو د ساتنې او ودې لپاره کار کوله، چې د ايجاد څخه وروسته د ۲۰۰۸ کال څخه تر ۲۰۲۱ پدې برخو کښې خدمات وړاندې کړل .
نوموړي د يادې ټولنې خدمتونه او لاسته راوړنې په دې توګه يادې کړې:
« د مدافع وکيلانو شمېر له ۴۸۰ څخه ۶ زرو ته لوړ شو.

-د مدافع وکیلانو د نړیوالي ټولنې غړیتوب ترلاسه کول.
-په مهمو دولتي حقوقي کمیټو کې فعال غړیتوب، د جمهوري ریاست عدلي او قضايي کمیسیون، د اداري فساد دوسیو سره د مبارزې کمیټه، د قوانینو د څیړلو او تایید کمیټه، د شکنجې د مخنیوي کمیټه، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي سره د مبارزې کمیټه، د انسان تښتونې او د انسان قاچاق کمیټه او داسې نور د هیواد په سطح مهم او اړین حقوقی کمیټې.
-د قضايي ارګانونو په کچه د اتحادیې د موقف بنسټیز کول.
-د ټولنې د مهمو پروژوتطبیق په بریالیتوب سره.
-د ټولنې په چوکاټ کې د بېلابېلو کمېټو جوړول لکه د مدافع وکیلانو د ستونزو د حل کمېټه، د عدالت غوښتنی کمیټه، د پوهنې کمېټه او د رسنیو د چارو کمېټه چې مشري یې د رضاکارو وکیلانو په غاړه وه.
-د ولایت په مرکز کې د مدافع وکیلانو لپاره د لسګونو روزنیزو حقوقی او تخصصی پروګرامونو پلي کول او د ظرفیت لوړول.
-په هرات، مزار، ننګرهار، کندهار، کندز، هلمند او بامیان ولایتونو کې د مدافع وکیلانو د اسانتیا لپاره د ساحوي دفترونو جوړول.
-د دفاع وکالت د ستاژ کورس جوړول.
-او د 2017 وروسته د اتحادیې مالي ځان بسیا کول.»
وروسته له هغه چې طالبانو د ۱۴۰۰ م کال د اګست میاشت ۱۵ پنځلسم نیټه کې د افغانستان واک تر لاسه کړ، د افغانستان حقوقي او قضايي سکتور هم د دغه پرمختګ له امله اغیزمن شو. د یاد کال د سنبلې په ۲۸ مه د طالبانو د وزیرانو شورا د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې د منحلولو لپاره د عدلیې وزارت لپاره د طالبانو له خوا د ټاکل شوي عبدالحکیم شري له وړاندیز سره موافقه وکړه. دا پرېکړه وروسته له هغې وشوه چې د افغانستان مدافع وکیلانو یې ونه منله او بالاخره د ډسمبر په دویمه ۱۴۰۰ کال وسله والو طالبانو د افغانستان د مدافع وکیلانو د خپلواکې ټولنې پر مرکزی دفتر برید وکړ او د وسلې په زور انجمن غصب او د هغه ځای کارمندان ونیول شول .
ښاغلي قاریزاده افغان ښځو خبري آژانس ته وویل« دغه ټولنه دولتي او سیاسی نه وه بلکه مستقل ټول مدافع وکیلانو د پیسو په ملاتړ جوړه شوې. د طالبانو له راتګ وروسته ټول مدافع وکیلان له سختو ستونزو سره مخ دي په تېر حکومت کې مدافع وکیلان، څارنوالان او قاضیان چې د طالبانو اړوند دوسیې یې تعقیبولی، له جدي ګواښونو سره مخ دی چې لږ تر لږه ۱۲ تنه یې د نامعلومو وسله والو له

خوا وژل شوي او دا لړۍ لا هم روانه ده. د کابل له سقوط وروسته په افغانستان کې مدافع وکیلان  په ډېر سخت حالت کې دي. ډېری یې بندیان شول او د پام وړ شمیر یې شکنجه شول ووژل یا تېپیان شول، چې اوس د خپل ځان او د خپلو ماشومانو او کورنیو د ساتنې په لټه کې دي.»
په داسي حال کې چې مدافع وکیلان کولی شي د خپل مؤکل په استازیتوب  ددوی له حقونو دفاع وکړي لکه له توقیف څخه د تورن یا مجرم خلاصون،برائت،په مجازاتو کې کموالی او نورو برخو کې ګټور فعالیت وکړي.
دطالبانو عدلیې وزارت د ۱٤۰۱کال د دلوې په ۲۳نېټه  د مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه په یاد وزارت کې مدغم کړه او ټول فعالیتونه چې مخکې یې په مستقله توګه ترسره کول وزارت ته انتقال کړل.
له بل لورې طالبانو د واک ته رسېدو سره سم د ښځینه مدافع وکیلانو په ګډون ټول مدافع وکیلان چې(۷۵۰)تنه یې ښځې وې له دندې ګوښه کړل.په دې توګه طالبانو ښځې چې د عدالت لپاره  محاکمو ته  مراجعه کوي  عدالت ته له لاسرسي څخه محرومي کړي.
په دې توګه د تورن د دفاع حق ،چې د تېر حکومت د اساسي قانون دېرشمې مادې او د جزایي اجراآتو د قانون د متعددو موادو پر بنسټ په رسمیت پېژندل شوی و چې اوس وخت کې ترې ډېری بندیان او په ځانګړې توګه میرمنې محروم شوي.
که څه هم ښځینه و لپاره د مدافع وکیل نیول کېږي خو ښځې نشي کولی د نارینه و سره خبرې وکړي څومره چې آزادانه توګه یوې ښځې سره موضوعات شریکولی شي له نارینه و سره یې نشي شریکولی او دبل لورې ښځینه یوازې ښځینه درک کولی شي.

ښځینه څارنوالانو ګوښه کېدل:

طالبانو د ښځینه څارنوالانوپه ګوښه کولو عدالت ته د ښځو لاسرسی محدود کړځکه کله چې مظنون اوتورن ونیول شي دوی ته د تحقیق څارنوال لخوا دوسیه اچول کېږي چې وروسته د تدقیق څارنوالان دهمدې تحقیق له مخې قضیه مخ ته وړي خو کله چې په توقیف خونو کې ښځینه څارنوالانې نه وي نو ډېرې ښځې د نارینه څارنوالانو سره واضیح او ډاډه خبرې نشي کولی او ډېر څه پټوي چې له امله یې بې ګناه میرمنې د مجرمینو په توګه بې ګناه پرته لدې چې به کوم جرم مرتکبې شوې وې مجازات کېږي چې په دې توګه جنایي عدالت نه پلي کېږی.

## د ښځینه قاضیانوګوښه کول:

په تېر جمهوري حکومت کې شاوخوا ۲۵۰قاضیانو په قضایي سیستم کې دندې پرمخ وړلې چې د طالبانو راتګ سره سم د طالب چارواکو لخوا د حجاب نه مراعت او د پوهې کموالي په پلمه له دندو ګوښه شوې.

## په موسساتو اونورو ادارو کې حقوقي مشاورینودندې ځندول:

طالبانواقتصاد وزارت  د ۲۰۲۲ کال د ډسمبر په شلمه نېټه د یو مکتوب له مخې د غیردولتي موسساتو ښځینه کارکونکو دندې تر دوهم امر(امرثاني)پورې وځنډولې چې تر ننه بیا پیل نشوې.په یادو کارکوونکو کې هغه ښځې هم وې چې په حقوقي برخو کې به ښځو ته مشورې ورکولې،د ښځو پوهاوي لپاره یې کارکاوه،څود تاوتریخوالي سر مخ نشي او که تاوتریخوالي یا ستونزو سره مخ شي او یا یې حقوق ترپښو لاندې نو له کومو لارو چارو ګټه پورته کولی شي چې عدالت ته لارسی پیدا کړي او خپل حقوق ترلاسه کړي.

## نرواکي اود ښځو سره تبعیض عدالت ته د ښځو په لاسرسي  کې خنډ رامنځته کړی:

دطالبانو نارینه محوره حکومت  او کابینه ددې سبب شوې ده چې ښځې په ډېرو برخو کې له خپلو حقونو بې برخې او د شکایت  لپاره عدالت او محکمو ته لاسرسی محدود شي.
 طالبانوعملاد ۱۴۰۰کال د سنبلې په ۱۶مه نېټه داسې کابینه رامنځته کړه چې ټول وزیران یکې نارینه وو.
ددوی د دویمي دورې(اوسنۍ دورې) لومړنی فرمان چې دملا هیبت الله ته منسوببږې ۱۴۳۸/ ۸/۷ تاریخ د ۳۳مه ګڼه فرمان چې دوی صادر کړ د ښځو چارو وزارت یې لغوه او پرځای یې د امربالمعروف او نهي عن المنکر(دپه ښګېنو امر او له بدیو منعه)وزارت ایجاد کړ.دوی د ۲۰۲۱کال د سپټمبر په ۱۷مه نېټه یاد فرمان عملي کړ اود ښځو چارو وزارت چې د هیواد په ۳۴ولایتونو کې یې ریاستونه درلودل د ښځو اړونده چارې یې مخ ته وړلې او ښځو ته  یې د نورو حقونو ترڅنګ عدالت ته د لاسرسي په برخه کې اغېزمن کارونه ترسره کول په بندولو یې د ښځې له ګټو فرصتونو،سیاسي حقونو او عدالت ته له لاسرسي  څخه بې برخې کړې.

## د تېر حکومت  د ښځوملاتړ اړوند قوانینو لغوه کول:

افغانستان کې د ښځو د حقونو په اړه ټولو قوانینو چې ددوی د حقونو څخه د ملاتړ په موخه نافذ شوي و دطالبانولخو په لغوه کولو یې د ښځو د حقونودخوندیتوب په برخه کې د قضایي مصئونیت  خلا رامنځته کړې چې دوی یې اجباري ودونو او کورني تاوتریخوالي او ځان وژنو ته اړ ایستلي دي.
په افغانستان کې طالبانو د واک ته رسېدو سره سم ټول هغه قوانین چې د ښځو د ملاتړ لپاره په تېر حکومت  کې جوړ شوي و لغوه اعلان کړل لکه:
د افغانستان اساسي قانون:
د افغانستان اساسي قانون چې په ۲۰۰۴کال کې جوړ شوی یکې داسې احکام شامل دي چې د قانون په وړاندې د ښځو او نارینه وو برابري تاییدوي.

د اساسي قانون دوه ویشتمه ماده په ځانګړې توګه د جنسیت په پام کې نیولو پرته د افغان اتباعو حقونه په ګوته کوي.
چې طالبانو په راتګ لغوه اعلان کړ.
د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو قانون

دا قانون په 2009 کې نافذ شوی،چې د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي بیلابیل ډولونه پکې تعریف شوي او د جرم په توګه معرفي شوي دی لکه:کورنی تاوتریخوالی، جبري ودونه، کم عمره نجونوودونه، او دتاوتریخوالی ښځینه قربانیانو لپاره سرپناه او قانوني مرستې هم رامینځته کوي.
له تاوتریخوالي څخه د ښځو د ساتنې قانون:

دا قانون چې په ۲۰۱۸کال رامنځته شو هغه حقوقي احکام نور هم پیاوړي کوي چې ښځې د تاوتریخوالي او ځورونې له بېلابېلو ډولونو څخه ساتي.
مدني قاونون:

چې په شخصي احوالو کې د ښځو له حقونو د رعایت او ملاتړ لپاره جوړ شوی دی او د د واده، طلاق، او میراث پورې اړوند احکام پکې شامل دي چې د ښځو له حقونو دفاع او دوی ته د عدالت تامینوي.
افغانستان د ښځو لپاره د عمل ملي پلان(NAPWA)

که څه هم قانون نه دی، NAPWAستراتیژیاني او کړنې په ګوته کوي ترڅو د افغان میرمنو حقونو ته وده ورکړي او ساتنه وکړي. دا د تعلیم، روغتیا، او سیاسي ګډون په ګډون بیلابیلو برخو کې د ښځو د حقونو ملاتړ کوي.

په ملګرو ملتونو کې د افغانستان لپاره دایمي استازي نصیراحمد فایق د ملګرو ملتونو په یوغونډې کې چې د افغان نجونو او میرمنو د وضعیت په اړه جوړه شوې وه ویلي ود تېرحکومت قوانینو په لغوه کولو سره ښځې د تاوتریخوالي سره مخ دي او ددې قوانینو نشتون عدالت ته د ښځو لاسرسي په برخه کې خلا رامنځته کړې ده او کله چې ښځې د کورني تاوتریخوالي په اړه افغاني محکمو ته شکایت وکړي ددوی شکایتونو ته د رسېدو پرځای مجازات کیږي.

## د پولیسو لخوا عاجلانه محاکمه

ډېری ښځې او نارینه په حوزو کې محاکمه شوي پرته له دې چې قضیه ثبت او د اجراآتو لپاره د عدلي او حقوقي پروسې څخه تېره شي په حوزو کې د طالبانو پولیسو لخوا ورته د پای ټکی ایښودل کیږي او یا غیر رسمي عدالت لپاره د سپین ږیرو او قومي مشرانو ته د حل لپاره راجع کیږي.

## غیر رسمي عدالت او د قومي مشرانو لخوا د قضیـو غیر عادلانه حل:

طالبانو ځینو کورنیو موضوعاتو اړوندې قضیې پرته لدې چې په محاکمو کې قانوني پروسې طی کړي له پیله د سپین ږیرو اوقومي مشرانو جرګو ته راجع کړي څو هغوی یې د دودونو له مخې حل کړي.

که څه هم ډېرې جرګې په ښه توګه حل کیږي خوله بده مرغه دافغانانوځیني بد رواجونه ددې جرګو د پرېکړو سرچینې ګرځي او ډېر کله د ښځو حقونه د همدې جرګو له امله ترپښو لاندې کیږي.لکه د مقتول کورنۍ ته د قاتل خور،لور،وریره په بدو کې ورکول،د بدل فرهنګ چې د ښځو طلاق په بدل کې باید هغه ښځه مجازات یا ووژل شي چې د هغې په بدل کې واده شوې حالانکه بې ګناه هم وي چې د طالبانو په حکومت کې هم یادې پیښې ترسره شوې او طالبانو په لوی لاس دې جرګو ته صلاحیت ورکاوه چې د دودېزو قواعدو له مخې قضیې حل او فصل کړي.

که څه هم د طالبانو یوازنی فرمان چې د ښځو د حقونو په برخه کې مثبت دی او ددوی حقونو ته د لاسرسي په برخه کې یې صادر کړی دی د طالبانود مشرملاهیبت الله ته منسوبیږي د ۱۲/۹/۱۴۰۰تاریخ په ۳۸ مه ګڼه کې د ښځو په هکله فرمان صادر کړچې په یاد فرمان کې ښځو ته په نکاح کې رضایت حق،په بدو کې ددی ورکړې منعه،د کونډې په جبر نکاح ورکولو منع،د کونډې ته مهر ورکولوټینګار،ښځو ته د میراث حق ورکول،د زیاتو ودونو لرونکو ته د ښځو ترمنځ په مساوي حقوقو ورکړې ټینګار ټینګار شوی و.په یاد فرمان کې د حج او وقافو وزارت ته امر شوی و چې د ښځو د حقونو لپاره ملا د ممبر له لارې تبلیغ وکړي او اطلاعاتو کلتور وزارت دې د رسنیو او فرهنګیانو په وسیله د ښځو حقونو ته کار وکړي.همدارنګه په دې فرمان په وروستۍ برخه کې محکمو ته حکم شوی و چې د ښځینه قضیو ته په اصولي ډول رسېده ګي وکړي.

که څه هم فرمان صادر شوی خو زیاتې ښځې چې په مدني قضیو کې په قصدي ډول نابریالۍ اعلانیږي او ډېر وخت دودیزې جرګې قضیې د نارینه و په ګټه فیصله کوي.

## د طالبانو صحرایي محاکمې:

د طالبانو محاکمې د مشخص قانون نه لري چې پراساس یې تورنو کسانو ته سزاء ورکړي.

که څه طالب چارواکو هرځل ویلي چې ددوی د پرېکړو اساس اسلامي شریعت دی خو ددوی پرېکړې د اسلامي شریعت خلاف دي چې د خلکو حقونه نقض کوي.لکه:

د جرمونو لپاره مشخص تعریف نشتون:

ځیني جرمونو شته چې مشخص تعریف،پیژندنې ته اړتیا لري او باید ورته سزاوې په قانون کې پیشبیني شي څو خلک ځان وساتي او په کولو او نه کولو مرتکب نشي،خو طالبانو داسې کوم قانون نشته چې پرته له حدودو نور جرایم تعریف کړي چې دلته د جرم قانوني،مادي او معنوي عنصر نه تعریف له امله د ښځو په ګډون خلک مجازات کیږي چې دا خپله د عدالت پرځای لویه بې عدالتي ده.

د محاکمو د پروسېجرونو نه شفافیت،د قاضیانو د ظرفیت معلوموني او تاکني مبهم بهیر،او دملایانو ګمارنه هم عدالت ته د ښځو په لاسرسي کې محدودیتونه رامنځته کړي دي.
طالبانو ډېر کسان چې په عدلي او قضايي اورګانونو کې ګمارل شوي دي زیاتره یې بې تجربې او د مدرسو ملایان دي چې د پرېکړې پرمهال د عدالت پلي کولو پرځای بې عدالتي کوي.
که څه هم محمدبشارد طالبانو د عدليې وزارت ویاند دDW سره په مرکه کې ویلي و ،چې په ټول افغانستان کې صحرايي محکمې نشته او ټول د اسلامي فقهې پر اساس فیصلې کوي او ټولې هغه جزاوې چې په افغانستان کې په تورنو عملي کېږي نو د افغانستان د سترې محکمې د پرېکړې پراساس کېږي چې ولایتي محکمو ته لېږدول کېږي.
اوسمهال طالبانو د اساسي قانون او د جزا کود نشتون کې فعالیتونو مخ ته وړي که څخه هم دوی ویلي و چې د ظاهرشاه باچا د دورې قانون چې په ۱۳۴۳کال کې جوړ او نافذ شوی و نافذ اعلان کړ خو منتقدین نیوکه لري چې د وخت سره سموالی نه لري او ډېرو اړتیاوو ته ځواب نشي ویلي.

### د حدود او قصاص جزاګانې:

طالبان د حدود او قصاص جزاګانو تطبیق د خپلې لاسته راوړني او د اسلامي شریعت د پلې کېدو د یو ثبوت په توګه یادوي او ویاړ پرې کوي.
دې ډلې د ۲۰۲۱کال پ کابل د حاکمیت راهیسې ۴۸۹ نارینه
۱۱۸ ښځې په درو وهل شوې دي او د دریو ښځو سزا ځنډول شوې ده.
او دوه ځلې د قصاص جزاء ګانې په عام محضر کې تطبیق کړې دي.
او ۱۷۵ تنه اعدام ۳۷تنه سنګسار،٤تنه د دیوال لاندې کړي.
د طالبانو محکمې ویلي چ تراوسه ۱٤۰۲ ثور ۱۵نېټې پورې یې په ۱۰۳تنو شرعي حدود او ۱٥٦٢باندې تعزیري مجازات کړي.
له بل لورې طالبانو سترې محکمې په ۱۴۰۲ کال د ثور په ۱۵نېټه په یوې اعلامیه کې ویلي و چې تر دې دمه یې په۱۷۰تنودقصاص حکمونه،۷۹د دیت حکمونه،او ۳۷د سنګسارحکمونه صادر کړي.
همداراز د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت یا یوناما(UNAMA)په یو راپور کې ویلي و چې ۲۰۲۲کال د می نه تر ۲۰۲۳کال نومبر۱۳پورې ٤۳قضايي بدني پېښې ثبت کړې دي،چ ۳۳۲کسانو ته سزاء ورکول شوې ده،چې ۵۸ښځې او ۲۷٤نارینه وو.

## پایله:

طالبانو د واک ته رسېدو له راهیسې په بېلابېلو بڼو عدالت ته د ښځو لاسرسی محدود او له منځه وړي دی.
ددوی امربالمعروف وزارت او استخباراتو لوی ریاست له محاکمو پرته ښځې د حجاب نه مراعتولو،لاریون کولو،د سفر پرمهال دمحرم نه درلودلو مجازات کړي دي .همدارنګه

ددوی چارواکو له دندو دښځینه قاضیانو،ښځینه مدافع وکیلانو،څارنوالانو او حقوقي مشاوروړینو لرې کولو باندې یې ښځې عدالت ته له لاسرسی محرومې کړي.
دوی همداراز دودیز جرګو،د پولیسو لخوا عاجلانه محاکمه،خپلسرو نیونو،په بند کې شکنجه کولو،صحرایی محاکمو،پخپله خوښه د حدودو پلي کولو سره ښځې عدالت ته له لاسرسي محرومې کړي دي.

## وړاندېزونه:

افغان ښځو او نارینه و ته:

ښځې باید خپله د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی رامنځته نکړي.

نارینه باید د هغو ښځو ملاتړ وکړي چې د عدالت لپاره محاکمو ته مراجعه کوي او باید ډیره هڅه وشي چې دودیزو جرګو ته د ستونزو او مسائلو حل لپاره مراجعه ونشي .

افغانې ښځې دې ددوی په وړاندې د طالبانو توپیري چلند او ددوی عدالت ته لاسرسي محدویت پېښې مستندې کړي ، یا یې رسنیو سره په مستند کولو همکاري وکړي ، په اړه یې د عدالت غوښتنه وکړي او تر نړیوالو دې ورسوي.

د طالبانو حکومت ته:

طالبان باید د حکومت په توګه د اتباعو په ځانګړې توګه د ښځو حقونو ته درناوی وکړي اوتامین یې کړي.

طالبان دې تېر اساسي قانون پلی کړي او یا دې نوی اساسي قانون چې اسلامي شریعت، انساني کرامت او د اتباعو حقوقو،نړیوالو قوانینو ته په کې درناوی شوی وي جوړ او نافذ کړي.

طالبان دې د ښځو له ځپلو،خپلسرو بندي کوونو،شکنجه کولو،د ښځوصحرایي محاکمه کول او په محاکمو کې د پریکړو پرمهال د ښځو په وړاندې تبعیض بند کړي او د حدودو پلي کولو کې ټول هغه اصول او احکام چې اسلامي شریعت اړوند وي پلي کړي او پخپله خوښه دې حدود نه پلي کوي.

نړیواله ټولنه:

نړیوال دې په افغانستان کې د قضایي سیستم اصلاح لپاره کار وکړي او پرطالبانو دې فشار راوړي څو عدالت ته د ښځو لاسرسی په برخه کې اسانتیاوې برابرې کړي.

د ښځو په وړاندې د طالبانو توپیري چلند او پردوی د محدودیتونووضع کولو دې د جنسیتي تبعض په توګه په رسمیت وپیژني.

نړیواله جنایي محکمه باید په طالبانو د ښځو ځپنې له امله دوسیه خلاصه کړي او دوی باندې تعزیرات وضع کړي.

هغه سازمانونه چې د ښځو حقونو لپاره کار کوي باید دښځو پروړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي او عدالت ته دوی لاسرسۍ لپاره بودیجه ځانګړې کړي او داسې برنامې په لاره واچوي چې عدالت ته د ښځو لاسرسی تضمین او آسانوي.

د نړۍ هیوادونه دې طالبانو سره د تعامل پرمهال د ښځو حقونه سرې کرښې وګرځوي او پام دې ورته وکړي.ترهغې دې طالبانو حکومت په رسمیت نه پیژني څو چې د ښځو لپاره عادلانه ژوند چاپیریال برابر نه کړي.

## ماخذونه


1: د اجراآتو انحراف،په افغانستان کې د ملګرو ملتونو
2:مرستندویه پلاوي(یوناما)راپور(ډسمبر۲۰۲۳)
3:گزارش گزارشگر ویژه در مور حقوق بشر در افغانستان،۳۱می (۲۰۲۳)
4:د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو راپور(۲۰۲۱اګست-۲۰۲۲جون ۱۵
)۲۰۲۲(
5:د افغان ښځو خبري آژانس مرکې د ښځو سره.
اساسي قانون(۱۳۸۲)
6:د ښځو په وړاندې د تاوتریخوالي منع قانون
7:د بیلابېلو داخلي او نړیوالو رسنیو راپورونه

1: https://youtu.be/Ivm1QTmDFto?si=27Iet0HFVrvO41XD

2: https://youtu.be/WSRL59d4kwU?si=1z8rziXItplHZ5a6

3:https://youtu.be/wZPL-tnWUac?si=yub_9Q7PGdcmmo2k